# د تنکیو ځوانانو پر ټولنیزه وده د میندو- پلرونو د سلوک اغېزې

پوهنیار اسدالله کلیوال[۹]
تقریظورکوونکی: پوهنوال ستارالدین صدیقی

مجـلهی علمی-تحقیقی حـوزهی علوم
اجتماعی پـوهـنتون کـابـل، ۳ (٤) ۱٤۰۰

**لنډیز**

دا یوه توصـیفي-کاربردي څېړنه ده. د څېړنې موخه دا ده چې روښـانه شي د والدینو سـلوک د تنکیو ځوانانو ټولنیزه وده څنګه تر اغېز لاندې راولي. څېړنه کې د والدینو د سلوک اړوند تحقیقات تحلیل شـوي او د څېړنې پوښتنو ته ځواب موندل شوی دی. د څېړنې پایلې ښیي، چې د سختدریځه والدینو تنکي ځوانان د خپلواکۍ په تر لاسه کولو کې له ستونزو سره مخ وي. د مطلق ازاد سلوک لرونکو والدینو اولادونه هېڅ ډول ارزښتونو ته ژمن نه وي. د مقتدرانه سـلوك لرونکو والـدینو تنکي ځوانان د متقابل احترام لرونکي وي. د تړلي سـلوک لرونکو والدینو اولادونه بېنزاکته، ځانغوښـتونکي او تمه لرونکي وي. د څېړنې لاسـته راوړنې ښـیي، چې د تنکیو ځوانانو د سالمې ټولنیزې ودې لپاره د میندو– پلرونو د سلوک ښه ډول مقتدرانه سلوک دی.

کلیدي اصطلاحات: تنکی ځوان؛ سلوك؛ ټولنیزه وده؛ د والدینو رفتار؛ روزنیز مېتود

# The Effects of Parent Behavior on Adolescent Social Development

Jr. Teaching Asstt. Asadullah Kaliwal

**Abstract**

This research is descriptive- applied study. The aim of research is to elucidate that what is the effects if parents behavior on the social development of teenager. In research researches are analyzed and answer found for the question of research. The results of this study show that adolescents with hardline parents have difficulty achieving independence. And this kind of parental behavior paves the way for juvenile delinquency, deviation and misbehavior. Adolescents with absolutely free-spirited parents are not committed to any values and face confusion and lack of planning. Adolescents with democratic behavior should have mutual respect, gradually it is moving towards independence and its social development is progressing with age. Grandchildren with close-knit parents are rude, selfish and expectant. The findings of the study show that parental behavior is a good way of promote healthy social development in adolescents.

Keywords: Adolescent; Behavior; Social Development; Parent Attitude; Educational Method.

**ارجاع**

کلیوال، اسـدالله. (۱٤۰۰). د تنکیو ځوانانو پر ټولنـیزه وده د مـیندو- پلرونو د سـلوک اغېزې. مجـلهی علمی- تحـقیقی حـوزهی علـوم اجتماعی پوهـنتون کـابل، شماره ۱ (٤)، صص ۱٤۳-۱۵۵.

---

[۹] استاد پوهنځی تعلیم و تربیه، پوهـنتون کـنر

### سريزه

د ودې له اړخه د ژوند ټولې دورې مهمې دي؛ خو د تنکۍ ځواني پړاو له ځانګړي اهميت څخه برخمن دی. په دغه پړاو کې تنکی ځوان د ودې د نورو اړخونو تر څنګ په ټولنيز اړخ کې هم پراخه وده کوي. تنکۍ ځواني کې وګړی د ماشـــومتوب له تړلي ژوند څخه ازادېږي او په مختلفو برخو کې خپلواکي تر لاســه کوي. که څه هم له مختلفو برخو څخه د تنکي ځوان خپلواکۍ ته رســېدل طبيعي خبره ده؛ خو په دې برخه کې د ميندو – پلرونو رول هم مهم دی.

ټولنيزه وده له زېږون څخه تر مړينې پورې دوام لري او که انســاني وده په ځانګړي ډول ټولنيزه وده په سـمه توګه پر مخ ولاړه شي، له ټولنيز اړخه د يوه سـالم وګړي را لويېدل شـوني دي. که څه هم ټولنيزه وده د ټول ژوند په اوږدو کې دوام لري؛ خو د تنکۍ ځواني پړاو کې ډېر پراخوالی مومي او ميندو پلرونو ته ښايي چې په دغه دوره کې له خپلو تنکيو ځوانانو اولادونو سره مناسبې اړيکې او سلوک ولري.

### د مسألې بيان

د تنکۍ ځواني دوره چې د عمر له ډېرو مهمو دورو څخه حســابېږي، تنکي ځوانان پکې د نورو اړخونو تر څنګ په ټولنيزه برخه کې هم پراخه وده کوي. په دې دوره کې تنکي ځوانان ډېر ملګري مومي او د همدې ملګرو شـــتون او له هغوی سره چلند د دوی پر ټولنيزو کړو وړو اغېزه کوي. تنکي ځوانان په دغې دوره کې له ميندو پلرونو سره واټن نيســـي او له هغوی سره خپلې ټولنيزې اړيکې راکموي؛ خو دا چې دوی لا هم له مختلفو اړخونو څخه خپلواکۍ ته نه دي رسـېدلي او له مور و پلار سره په کور کې ژوند کوي، د هغوی ســـلوک او کړه وړه د دوی په ټولنيزه وده او کړو وړو خپل اغېز لري. که ميندې پلرونه له خپلو تنکيو ځوانانو اولادنو سره مناســـب چلند ونکړي د هغوی پر ټولنيزې ودې منفي اغېزې لرلای شي؛ نو د دې څېړنې مســـأله دا ده، چې ميندې- پلرونه له تنکيو ځوانانو سره څه ډول چلند وکړي، چې د هغوی ټولنيزه وده ورسره په ســـم شـــکل مخ ته لاړه شي؟ په بله وينا، د والدينو کوم ډول ســـلوک د تنکيو ځوانانو د ټولنيزې ودې ســـم پرمختګ ته لار هوارولای شي؟ دا په داســـې حال کې ده چې د ميندو پلرونو ســـلوک د اولادونو د ودې پر ځينو اړخونو په ځانګړي ډول د ټولنيزې ودې په اړخ ډېره اغېزه لري.

### د موضوع اهميت

د تنکۍ ځواني دوره چې نوی ځوان پکې د ودې د نورو اړخونو تر څنګ له ټولنيزه اړخه هم چټکه وده لري؛ خو د مخکينيو دورو برعکس، دې دوره کې د تنکي ځوان ډېره پاملرنه د ميندو- پلرونو پر ځای ملګرو او همزولو ته وي. په دغه پړاو کې د تنکي ځوان هيله دا وي، چې له ميندو ــ پلرونو څخه

خپلواکي تر لاسه کړي او همدا چاره د دې سبب کېږي، چې هغه خپل ډېر وخت له ملګرو سره تېر کړي چې پر کړنو په ځانګړي ډول ټولنیزو کړوــ وړو یې ژوره اغېزه کوي. د دې څېړنې اهمیت په دې کې دی چې له یوې خوا په دغه پړاو کې تنکي ځوان هڅه کوي ځان له مور و پلار څخه لرې کړي او له بلې خوا د هغوی لارښووونو او مینې ته اړتیا لري؛ نو اړینه ده چې مینديـ پلرونه پوه شي، چې له خپلو تنکیو ځوانانو اولادونو سره څه ډول چلند وکړي، چې هم یې اړینې لارښوونې ورته کړې وي او هم یې هغوی ته د خپلواکي د تر لاسه کولو زمینه برابره کړې وي. دا څېړنه ځکه اړینه ده، چې د میندوـ پلرونو یو ډول سلوک د ودې په مختلفو دورو کې ګټور نه وي او دا باید روښانه شي چې په تنکي ځواني پړاو کې د میندو ـ پلرونو کوم ډول سلوک اغېزمن واقع کېږي.

### د څېړنې موخې

۱. د تنکیو ځوانانو په ټولنیزه وده باندې د میندو پلرونو د سلوک اغېزې معلومول.

۲. د تنکیو ځوانانو پر ټولنیزه وده د میندو – پلرونو د ډول ډول کړنو مثبتې او منفي پایلې څرګندول.

۳. د ډول ډول سلوک لرونکو میندو – پلرونو د تنکیو ځوانانو د ټولنیزې ودې ډول روښانه کول.

### د څېړنې پوښتنې

۱. آیا د میندو ـ پلرونو کړه وړه د تنکیو ځوانانو په ټولنیزه وده اغېزه لري؟

۲. د والدینو کومې کړنې د تنکیو ځوانانو په ټولنیزه وده مثبتې او منفي اغېزې لري؟

۳. آیا د والدینو د سلوک ډول د تنکیو ځوانانو د ټولنیزې ودې په څرنګوالي اغېز لري؟

### د څېړنې کړنلاره

په دغې توصیفي ـ کارېدونکې څېړنه کې چې د تنکیو ځوانانو پر ټولنیزه وده د میندو ـ پلرونو د سلوک اغېزې ښیي، د میندو ـ پلرونو د سلوک بېلابېلو ډولونو په هکله مقالې، لیکنې او څېړنې تحلیل شوي او د څېړنې پوښتنو ته ځواب موندل شوی دی. څېړنه د محتوا تحلیل په مېتود تر سره شوې او دا پکې روښانه شوې چې د میندو ـ پلرونو سلوک څه ډول د تنکیو ځوانانو ټولنیزه وده باندې اغېزه کوي.

### د څېړنې مخلید

د حیدر ویس د څېړنې په پایله کې موندلې، چې د سم انتخاب، په ځان باور او د نورو نظرونو ته اهمیت ورکولو ځواک د هغو کورنیو په تنکیو ځوانانو کې چې د روزنې ډول یې دموکرات وو د هغو کورنیو له تنکیو ځوانانو څخه زیات وو چې د روزنې ډول یې دکتاتورانه وو (حیدر ویس، ۱۳۷۸).

بهرامیان (۱۳۷۵) د لمبورن او ملګرو د څېړنې پایله ذکر کوي او لیکي: په دې څېړنه کې ۴۱۰۰ تنکي ځوانان چې عمرونه یې له ۱۴-۱۸ کالونو پورې وو له خپلو والدینو څخه د هغو د ارزونې او د منلو- مشغولتیا او محدودیت ـ څارنې اړخونو ته په کتو سره په څلورو ډلو: منطقي اقتدار، دکتاتوري، منطقي ازادي او سترګې پټوونکو باندې وېشل شوي وو. وروسته یې تنکي ځوانان له څلورو اړخونو یعنې رواني ـ ټولنیزه وده، تحصیلي پرمختګ، داخلي خپګان او ستونزه لرونکي سلوك باندې ووېشل او تر ارزونې لاندې یې ونیول. د څېړنې پایلې وښووده، هغو تنکیو ځوانانو چې خپل والدین یې د منطقي اقتدار لرونکو په توګه په ګوته کړي و په ټولنیز پورەوالي کې یې تر ټولو لوړې او په سلوکي او رواني پېژندنیزو ګډوډیو لرلو کې یې تر ټولو ټیټې نمرې اخیستې وې. هغه تنکي ځوانان چې خپل والدین یې سترګې پټوونکي ښودلي و، برعکس حالات پکې موجود وو. هغوی چې والدین یې د دکتاتورو په ډله کې راوستي و د اطاعت او له لویانو سره د ځان جوړونې په برخه کې یې لوړې نمرې اخیستې وې؛ خو په نسبي ډول یې د نورو تنکیو ځوانانو په پرتله د ځان (خود) په مفهوم کې کموالی لیدل کېده. په مقابل کې، هغه تنکي ځوانان چې له منطقي ازادي لرونکو کورنیو څخه راغلي و په ځان یې غښتلی باور درلوده؛ خو له موادو ناوړه ګټه اخیستنه او په ښوونځي کې غیر حاضري کول هم پکې تر یوه بریده لیدل کېدل (بهرامیان، ۱۳٦۷).

په ټولنیزه وده د کورني چاپېریال د اغېزو په هکله الدور یوه څېړنه تر سره کړې، چې کلمان هم په هغې استناد کړی دی. دغې څېړنې د والدینو درې ډوله نفوذ توصیف کړی یعنې دکتاتورانه، مطلق ازاد او دموکرات او د هغو اړیکه یې د تنکیو ځوانانو د شخصیت له ځینو اړخونو سره سنجولې ده او دې پایلې ته رسېدلی، چې د ډموکراټ کورنیو هلکان او نجونې په ځان ډېر باور لري؛ خو دغه ډېروالی بیا په نورو ډولونو په ځانګړي ډول دکتاتورو کې کم و (احدي او محسني، ۱۳۷۱).

شریعت (۱۳۷٦) څرګنده کړې، چې د پاشل شویو کورنیو تنکي ځوانان او ماشومان د منسجمو کورنیو د ماشومانو په نسبت د ټولنیزې ودې په ټیټه کچه کې دي (شریعت، ۱۳۷٦). دا د دې ښکارندوینه کوي چې د میندو ـ پلرونو سلوك او کړه وړه د تنکیو ځوانانو پر سلوك بې اغېزې نه دی.

**ټولنیزه وده او ټولنیز کېدل**

ټولنیز کېدل هغو بهیرونو ته اشاره کوي، چې په ترڅ کې یې یو بې تجربې وګړی داسې مهارتونه، ارزښتونه، انګېزې او کړنیزې نمونې په لاس راوړي، چې په واسطه یې کولای شي په هغه کولتور کې چې دی ژوند پکې کوي ښه سلوك ولري. ټولنیز کېدل د یو طرفه لارې په څېر ندی؛ بلکې د ټولنیزې

ډلې نوی غړی هم د ټولنیز کېدو په بهیر کې فعاله وي او د هغو مطالبو په انتخاب کې چې د پخوانیو وګړو له لوري ورته وړاندې کېږي، د ټاکنې حق لري (بهرامیان، ۱۳۷۱).

حسین نژاد او عبدالله زاده د مک کوبي له قوله لیکي: ”د ټولنیز کېدو د مطالعې وړ اصلي موضوع اتېرنیلایزېشن یعنې د زړه له کومې منل او د ځان په تنظیم کې د هغه رول دی. د زړه له کومې منلو کې چې د ټولنیز کېدو یوه موخه ده، ارزښتونه او معیارونه داسې منل کېږي چې د یوې ډلې غړي د هغو په منلو کې په ارادي توګه عمل کوي؛ نه ده باندنیو پایلو یا وېرې له امله“ (بهرامیان، ۱۳۷۱).

د انسانانو رواني– ټولنیزه وده په اتو پړاوونو کې بشپړېږي. لومړی پړاو یې د باور – بې باورۍ پړاو دی؛ دویم پړاو شک او تردید – د نظر خپلواکي؛ دریم پړاو د ګناه احساس– نوښت؛ څلورم پړاو د سپکاوي احساس– جوړښت؛ پنځم پړاو د رول ګډوډي – د هویت موندل؛ شپږم پړاو ګوښه‌والی- صمیمیت؛ اووم پړاو ډوبوالی– تولید؛ او اتم پړاو ناهیلیتوب– سپېڅلتیا دی (حیدر ویس، ۱۳۷۸). رواني – ټولنیزه وده د انسان له پیدایښت څخه پیلېږي او د عمر تر پایه دوام پیدا کوي؛ خو پینځم پړاو یې د نوې ځوانۍ په کالونو کې پیلېږي او د دې دورې تر پای ته رسېدو پورې دوام مومي.حقیار د کدیور له قوله لیکي: ”د تنکۍ ځواني پړاو خورا مهم کار د هویت جوړېدل دي. دی باوری دی، هغه ځوانان چې د ودې او پرمختګ په حال کې دي، ډېر ژر به د لویوالي دورې له پټو دندو سره داسې مخامخ شي چې د خپل موقعیت په هکله به پرېشانه وي او لامل به یې هغه احساس وي چې دی یې د خپل ځان او نورو پر وړاندې لري“ (بې‌ریا او ملګري، ۱۳۷۵).

د تنکۍ ځواني په پړاو کې د نورو په نظر ښه نه ښکاره کېدل او یا د هغوی له هیلو سره د تنکي ځوان نه برابروالی هم تنکی ځوان په ستونزو کې راښکېلوي (بې‌ریا او ملګري، ۱۳۷۵). د اریکسون په باور، د تنکۍ ځواني پړاو ډېر مهم او سرنوشت ټاکوونکی دی؛ ځکه همدا پړاو دی چې وګړی پکې د هویت موندلو بنسټیزې مسألې سره مخامخ کېږي. په دې پړاو کې تنکی ځوان هڅه کوي چې له وظیفوي، ټولنیز، باوري، جنسي او اړیکو له اړخه خپل ځای - ځایږی وټاکي (قهفرخي او ملګري، ۱۳۸۱). له همدې امله ده چې د هویت موندل یو ستونزمن او اضطراب راوړونکی کار دی. تنکی ځوان اړ دی چې ډول ډول رولونه تجربه کړي؛ ترڅو وکولای شي د ځان لپاره تر ټولو ښه او مناسب رول وټاکي. هغوی تر ډېره پورې خپلو باورونو او فکرونو ته تغییر ورکوي او د فکرونو او لیدلوریو په تجربې او ازمایښت لاس پورې کوي. د تنکۍ ځواني دغه ښکاره ځانګړنه (د فکرونو او ارزښتونو ازمایښت) د وخت غوښتنې په نوم یادېږي. هغه تنکي ځوانان چې له دغه ستونزمن او حساس وضعیت څخه په بریالیتوب سره را ووځي، یعنې غښتلی هویت وومومي، په ډېر ښه شکل د پوره‌والي له احساس

او پر ځان له پوره باور سره د لویوالي عمر ته چمتو کېږي؛ خو هغه تنکي ځوانان چې ونشي ـ کولای د هویت یووالي ته ورسېږي؛ باید د هویت بحران چې د لار ورکی او سرگردانی ښکاره نښه ده، تجربه کړي (عابدین، ۱۳۸۴).

**په تنکۍ ځواني کې د میندو- پلرونو سلوک**

د تنکۍ ځواني پړاو د ماشــومتوب له تړاو څخه د ځواني او لویوالي خپلواکۍ او مســوولیت منلو ته د لېږد یو پړاو دی. په دغه پړاو کې د تنکي ځوان کړنې سره توپیر لري، داســې چې کله د ماشــومانو او کله بیا د لویانو په څېر عمل تر سره کوي. دغه پړاو تنکی ځوان له دوو بنسـټیزو مسـألو سره مخ کوي. لومړی: تنکی ځوان بایـد لـه مینـدو- پلرونو او لویـانو سره بیا لـه سره او نوې اړیکې جوړې کړي؛ او دویم: د یوه خپلواک وگړي په توگه خپل ځان بیا لـه سره جوړ کړي (کلیوال، ۱۳۹۷). میلرنیوتون د تنکۍ ځواني پـه نوم کتـاب کې د تنکۍځواني یو پراخ تعریف وړانـدې کوي، هغـه وایي: «تنکۍ ځواني لـه ماشــومتوب څخه لویوالي ته د ودهییزو بهیرونو د لېږد دوره ده، چې دغه جریانونه بېلا بېل اړخونه لري: لومړی، د عصبي جوړښت وده او نمو، چې بدلون یې د وگړي په معرفتي ــــ عاطفي وده او کړنو کې تر ســـترگو کېږي؛ دویـم، فزیکي وده چې د بدن کچه او بدني بدلونونه پکې شــاملېږي؛ دریم، د جنسيـ نظام وده یا تولید مثل؛ څلورم، د احساس وده د یوه لوی او خپلواک انسان په توگه؛ پینځم، په ټولنیزو ډلو کې د لویوالي موقعیت په لاس راوړل؛ او شـپږم، له ټولنې سره د تعامل په وخت کې د خپلو کړنو د کنټرول وده» (عریضي، ۱۳۷۱).

له ماشومتوب څخه لویوالي ته لېږد ستونزمن او له کړکېچونو څخه ډک وي. تنکی ځوان له یوه پلوه په ډېرې چټکۍ سره بدني او جنسيــ بلوغ ته رســېږي او له بله پلوه کورنۍ، کولتور او ټولنه له هغه څخه غواړي؛ ترڅو خپلواک و اوسي، له همزولو او لویانو سره نوې اړیکې پیدا کړي او د وظیفوي او ټولنیز ژوند لپاره چمتووالی ونیسيـ. تنکی ځوان له دغو ټولو تغییراتو او بدلونونو سره سره باید د ځان لپاره یو منسجم هویت هم په لاس راوړي او لاندې پوښتنو ته مشخص او ځانگړی ځواب پیدا کړي: زه څوک یم؟ په حقیقت کې زما ځای کوم دی؟ له خپل ژوند څخه څه شـی غواړم؟ او داسې نور. دغو پوښـتنو ته د ځواب پیدا کول که له یوه اړخه په تنکي ځوان پورې تړلې خبره ده؛ خو له بله اړخه له تنکیو ځوانانو سره د میندوــــ پلرونو د اړیکو ډول او سـلوک هم دغو پوښـتنو ته په ځواب موندلو کې رول لري. دغه تغییرات، بدلونونه او دغو پوښـــتنو ته د نســـبتاً قناعت ورکونکي ځواب موندل او د هویت جوړښت کېدای شي څو کاله وخت ونیسي (ساعتچي، ۱۳۸۵).

د تنکۍ ځواني پړاو د دوام په هکله او دا چې دغه دوره د ژوند په کوم کال کې پیل او څه وخت پای ته رسېږي، د نظر یووالی شتون نلري. دا ځکه چې په مختلفو انسانانو کې د دغه پړاو پیل او پای سره توپیر لري، چې په مختلفو عواملو پورې تړلې خبره ده. د تنکۍ ځواني پړاو کېدای شي د ژوند له ۱۱ کلنۍ څخه پیل او تر ۲۰ کلنۍ پورې دوام ومومي.

تنکۍ ځواني په میندو - پلرونو او لویانو پورې له هغه تړاو څخه خلاصېدل دي، چې د ماشومتوب پړاو کې یې شتون درلود. په دې خپلواکۍ کې اقتصادي بسیا او په ټولنه کې د لویوالي عمر اړوند پوهې او مهارتونه لاس ته راوړل شامل دي. په دغې دوره کې د وګړي وده د دې سبب کېږي؛ ترڅو وکولای شي له لویانو سره په ټولنیزې راکړه - ورکړه لاس پورې کړي او له مخالف جنس سره صمیمانه جنسي-اړیکې رامنځته کړي (میرزاد او حبیبي، ۱۳۹۳).

د تنکۍ ځواني وده تر یوه بریده د جنسي او بدني ودې او تر یوه بریده د هغو هیلو او کړنو تر اغېزې لاندې ده، چې له ټولنې او کولتور څخه رامنځته کېږي (عریضي، ۱۳۷۱). سره له دې چې بدني او جنسيې بلوغ لویوالي ته د لېږد د بهیر بنسټیز لامل بلل کېږي؛ خو ټولنیز او کولتوري جوړښتونه هم هغه څه دي چې د دغه لېږد لپاره زمینه برابروي. د دې تر څنګ د میندو - پلرونو کړنې، له تنکیو ځوانانو سره د هغوی تعامل او دا چې د تنکیو ځوانانو د دغې دورې اړتیاوو ته څه ډول پاملرنه کوي، هغه څه دي چې د تنکیو ځوانانو په ټولنیزه وده اغېز لري.

**په ټولنیزه وده د میندو- پلرونو اغېز**

وګړي معمولاً په لویو یا کوچنیو کورنیو کې ژوند کوي. کوچنیو کورنیو کې مور ـ پلار، اولاد یا اولادونه شتون لري. د تنکیو ځوانانو د روزنې له پلوه د دغه ډول کورنیو اهمیت په دې کې دی، چې که مور و پلار په همغږۍ کې وي؛ نو تنکی ځوان په یوه ځانګړي روزنیز مېتود سره وده کوي، چې د دوه ګونې روزنې د رامنځته کېدو مخه نیسي؛ خو د ټولنیزې، فکري او هوښي ودې او استدلال له اړخه دغه تنکي ځوانان لکه د پراخه کورنیو د تنکیو ځوانانو په څېر وده نه لري. د دغه ډول کورنیو تنکي ځوانان معمولاً کم جرئته وي. لویې کورنۍ د تنکیو ځوانانو پر ټولنیزه وده مثبته اغېزه لري؛ خو د دغه ډول کورنیو د تنکیو ځوانانو تر منځ سیالي، مختلف او مخالف افکار او ځینې نورې ستونزې کېدای شي د تنکي ځوان په ټولنیزو کړنو منفي اغېزې ولري (حقیار، ۱۳۹۴).

میندې- پلرونه که په هر ډول کورنیو کې ژوند کوي، کېدای شي له خپلو اولادونو سره په لاندې شکلونو چلند وکړي: سخت دریځي، ازادخیالي، مطلقه ازادي او تړلی چلند.

سـخت دریځي چلند لرونکي میندې – پلرونه لاندې ځانګړنې لري: په کورنی کې دکتاتور وګړی چې معمولاً پلار وي د اولادونو (تنکیو ځوانانو) پر کړنو حاکم وي او هېڅ یو غړی د خپل نظر وړاندې کولو حق نه لري؛ د مور - پلار کړنو اولادونو ته داسې ورښودلې وي، چې د خپل باور څرګندولو حق نه لري؛ اولادونه باید د میندو – پلرونو له هر ډول غوښـتنو او کړنو څخه پیروي وکړي؛ اولادونه د کارونو د تر سره کولو یا نه تر سره کولو په موخه له میندو- پلرونو څخه د پوښـتنې کولو حق نلري. سـخت دریځي میندې – پلرونه کله چې تنکیو ځوانانو ته د یوه کار کولو یا نه کولو وایي دلیل یې نه ورته روښـانه کوي؛ میندې - پلرونه د خپلو اولادونو خبرو ته غوږ نه نیسي_ او له اولادونو سره د میندو - پلرونو چلند احترامانه نه وي، تر دې چې د نورو پر وړاندې هم د هغوی له تحقیر څخه ډډه نه کوي (حسین‌نژاد او عبدالله‌زاده، ۱۳۹۳).

د سخت دریځه چلند لرونکو میندو - پلرونو کړنې د دې سبب کېږي، چې اولادونه یې د خپلواکۍ په تر لاسـه کولو کې له سـتونزو سره مخ شي (سـاعتچي، ۱۳۸۵). دا چې په تنکۍ ځواني کې د تنکي ځوان د بنسـټیزو اړتیاوو نه پوره کېدل او د هغه غوښـتنو ته نه پاملرنه په هغوی کې د عقدو پیدا کېدو سـبب کېږي؛ نو دا کار په هغوی کې جرم، انحراف، بې لاریو، جنجالونو او ناسـمو ټولنیزو اړیکو ته زمینه برابروي. د دې تر څنګ، کله چې تنکي ځوان ته اهمیت او ارزښـت ور نه کول شي او معقولو غوښتنو ته یې پاملرنه ونشيـ، په هغه کې د کم ارزښتۍ احساس را پیدا کوي، چې دا کار هم د هغه په راتلونکو ټولنیزو اړیکو منفي اغېزه کوي.

هغه میندې – پلرونه چې له خپلو تنکیو ځوانانو اولادونو سره په مطلق ازاد ډول چلند کوي، دغه ځانګړنې پکې لیدل کېږي: د میندو - پلرونو غوښتنې او هیلې مشخصې نه دي، په همدې دلیل د اولاد روزنې لپاره له کوم ځانګړي فکر او مېتود څخه پیروي نه کوي؛ د خپلو اولادونو پر کړنو هېڅ کنټرول نه لري او هغوی پوره ازاد پرېږدي او هر ډول چې د تنکیو ځوانانو خوښـه وي د ژوند کولو طریقه ټاکي؛ دوی د اولادونو د کړنو په هکله بې تفاوته وي؛ که چېرته اولادونه د میندو - پلرونو له دسـتوراتو پیروي ونکړي، هغوی نه خواشیني کېږي؛ له اولادونو سره د چلند طریقه یې داسې وي، چې په هغوی کې پر ځان باور نه رامنځته کوي؛ له خپلو اولادونو سره څنګه چې اړینه ده هغسـې محبت نکوي؛ د کور په چاپېریال کې کوم ځانګړی نظم او ترتیب په پام کې نه نیسـی او په دغه برخه کې له اولادونو څخه هم د داسـې کار هیله نه کوي؛ خپل اولادونه د هر کار په تر سره کولو کې ازاد پرېږدي؛ ان که د دوی لاسوهنه پکې اړینه هم وي (حسین نژاد او عبدالله‌زاده، ۱۳۹۳).

د دغه ډول میندو- پلرونو ځانګړنو ته په کتو سره تنکي ځوانان یې هیڅ ډول ارزښـــتونو ته ژمن نه وي. په ټولنیزو اړیکو او ټولنیز ژوند کې هر ډول چې یې خوښـــه وي عمل کوي. دغه تنکي ځوانان د ارزښـتونو او معیارونو په تشـخیص کې له سـتونزو سره لاس و ګرېوان وي. د دغو میندو- پلرونو تنکي ځوانان اولادونه له سرګرداني او د پلان له نشـــتون سره مخ کېږي، د مور - پلار له کنټرول څخه وتلي وي، اولادونه یو بل ته احترام نه لري (سـاعتچي، ۱۳۸۵) او دا چې په کورنۍ کې د هر کس ځای او احترام څرګند نه وي؛ نو په ټولنه کې هم همدغسې چلند کوي او له ډول ډول ستونزو سره لاس و ګرېوان کېږي. په مطلق ازاده کورنیو کې تنکي ځوانان هیڅ ډول ارزښتونو ته ژمن نه وي (ایزدي او تنګستاني، ۱۳۹۰).

مقتدر میندې - پلرونه له اولادونو سره پوره مینه لري او په دغه کار کې ډېروالی او کموالی نه کوي. کله چې اولادونو ته نصـــیحت کوي او یا یې له کوم کار څخه منع کوي؛ نو قانع کوونکي دلایل ورته راوړي؛ سره له دې چې ښـو کړنو، انضـباط او ... ته ارزښـت ورکوي؛ خو د اولادونو له لوري د تر سره شویو کړنو دلایلو ته هم ګوري. د هغوی په هکله ژر او بې ځایه پرېکړه نه کوي او بې ځایه یې نه تنبیه کوي؛ د اولادونو اسـتعداد، ځواک او عمر ته په کتو هماغه ډول هیلې ورڅخه لري؛ اولادونو ته د نظر وړاندې کولو حق ورکوي او هغوی پرته له کوم تشـــویش څخه د ژوند په ټولو اړخونو کې خپل نظر وړاندې کوي. کړنې یې داســې وي چې په اولادونو کې د باور، صــمیمیت او ارامتیا احســاس را پیدا کوي او د اولادونو پرېکړو ته ارزښـت ورکوي. د هغوی پر ځای تصـمیم نه نیسـی؛ بلکې د تصـمیم نیونې په هکله ورته لارښوونه کوي. که اړینه وګڼي؛ نو د اولادونو د شخصیتي ځانګړنو په پام کې نیولو سره په نرمۍ، ښـه خوی او مناسـب وخت کې د هغوی تېروتنې ورښـیي؛ اولادونه دې ته هڅوي ترڅو خپلواک او په خپل ځان بسیا شي، داسې زمینه ورته برابروي چې هغوی پر ځان باور پیدا کړي (حسین نژد او عبدالله زاده، ۱۳۹۳). د اولاد روزلو مقتدرانه سبک د اسلامي لارښـوونو پر بنسـټ تر ټولو ښـه ډول دی (احدي او محســني، ۱۳۷۱). ډول ډول څېړنو هم ښـــودلې چې مقتدر ســبک د ازاد خیاله، سخت دریځه او ترلي سبک په نسبت تنکي ځوان ته ډېرې ګټې لري (بهرامیان، ۱۳۷۶).

د ازاد خیالـه مینـدو-پلرونو تنکي ځوانـان د متقـابـل احترام لرونکي، پـه ځـان بـاورمن او کرار کرار د خپلواکۍ پر لور ورځي. په دې مانا چې ټولنیزه وده او کړه وړه یې له عمر سره ســـم پر مخ ځي. دغه تنکي ځوانان په خپل راتلونکي ټولنیز ژوند کې د نظر خاوندان وي (شریعت، ۱۳۷۶). ښــه تصـــمیم نیوونکي او پر ځان باور لرونکي وي.

ترلي چلند لرونکي میندې- پلرونه خوښـــوي چې اولادونه یې تل د دوی په څنګ کې وي، له هغوی سره په افراطي ډول مینه کوي او د هغوی په ټولو چارو کې ان که اړینه هم نه وي لاسوهنه کوي.

دغه ډول میندې ـ پلرونه ډېر تود چلند لري؛ خو کومه هیله نلري. هغوی بنبونکي او منفعل وي او فکر کوي، چې اولادونو ته د خپلې مینې ښـــودلو لپاره هغه څه چې هغوی (تنکي ځوانان) یې غواړي باید ور یې کړي (بهرامیان، ۱۳۷٦). د دغه ډول کورنیو تنکي ځوانان اړینه خپلواکي نلري، ځان غوښتونکي او بې‌نزاکته وي او په ډېرې اســـانۍ سره د مور - پلار په حقوقو تېری کوي. په ټولنیز ژوند کې هم تمه لري، چې ټولې غوښـــتنې یې ومنل شي؛ خو دا چې په ټولنه کې حالت بل ډول وي؛ نو په ټولنیز نه جوړښـــت اخته کېږي او لار ورکي کېږي. دغه ډول حالت تر ډېره په هغو کورنیو کې لیدل کېږي چې یو ماشوم لري (حیدر ویس، ۱۳۷۸). په ټرلیو کورنیو کې میندې – پلرونه هڅه کوي چې د خپلو تنکیو ځوانانو اولادونو ټولې چارې ورته تر سره کړي؛ نو د دغه ډول میندو – پلرونو تنکي ځوانان په ځان پوره باور نشي ترلاسه کولای او تل غواړي چې نور یې په هکله پرېکړې وکړي.

د تنکۍ ځواني په دوره کې باید هم میندې- پلرونه او هم تنکي ځوانان وکولای شي چې نوې اړیکې رامنځته کړي. میندې– پلرونه باید د تنکیو ځوانانو اړتیاوې د هغوی له عمر سره ســـم وپېژني او هغوی تشویق کړي (کلیوال، ۱۳۹۷).

## د څېړنې موندنې

د څېړنې موندنې ښيي، چې د میندو ـ پلرونو کړه وړه د تنکیو ځوانانو پر ټولنیزه وده اغېزه لري. د تنکیو ځوانانو ټولنیز فعالیتونه او کړه وړه د هغوی د والدینو د سـلوک له ډول څخه اغېزمن کېږي. سره له دې چې په دغه عمر کې تنکي ځوانان له والدینو سره واټن نیسـی؛ خو په مختلفو برخو په ځانګړي ډول د خپلواکۍ په تر لاسه کولو او د لویانو په څېر ټولنیزو مناسباتو ته په ور ننوتو کې د هغوی لاربنـوونې او مناسب سلوک ته اړتیا لري.

د والدینو هر ډول ســـلوک د تنکیو ځوانانو په ټولنیزه وده منفي او مثبتې اغېزې لرلای شي. مقتدرانه ســـلوک د تنکیو ځوانانو پر ټولنیزه وده مثبتې اغېزې لري. د هغوی مناســـبې ټولنیزې ودې ته زمینه برابروي او د خپلواکۍ په تر لاســه کولو کې ورسره مرسـته کوي. له تنکیو ځوانانو سره سـخت دریځی چلند د هغوی پر ټولنیزه وده منفي اغېزې لري. دغه ډول چلند په ځینو تنکیو ځوانانو کې د په جرم اخته کېدو، ناســـمو ټولنیزو اړیکو او بې لاریو ته زمینه برابروي او په تنکیو ځوانانو کې د خپلواکۍ تر لاســـه کولو پر وړاندې خنډ ګرځي. مطلق ازاد چلند هم د تنکیو ځوانانو پر ټولنیزه وده منفي اغېزې لري. دغه تنکي ځوانان مناسـب ټولنیز معیارونه په سـمه توګه نشي‌ـ درک کولای او د متقابل احترام او بـاور روحیـه پکې کمزورې وي. لـه تنکیو ځوانـانو سره ترلی چلنـد هم د هغوی پـه ټولنیزه وده منفي

اغېزې لري، داسې چې دغه تنکي ځوانان بېنزاکته، منفعل او د نورو پرېکړو ته په تمه وي او په اسانۍ سره په ځان باور نشي تر لاسه کولای.

**مناقشه**

د لمبورن او ملګرو (۱۳۷۵) څېړنې ښــودلې وه چې د هغو تنکيو ځوانانو چې مینـدې- پلرونه یې د منطقي اقتدار لرونکي (ډموکراټ) ښــودلي و د هغو تنکیو ځوانانو په نســبت چې منیدې- پلرونه یې دکتاتور، مطلق ازاد او ســترګې پټوونکي ښــودلي و، په ټولنیز پورەوالي کې لوړې او په رواني اختلال لرلو کې ټيټې نمرې اخیســتې وې. د لمبورن د څېړنې پایلې د دې څېړنې له موندنو سره همغږې لري، ځکه دې څېړنې وښـوده چې د مقتدرانه (ډموکراټ) سـلوک لرونکو والدینو تنکي ځوانان ښـه ټولنیزه وده لري او د والدینو دغه ډول سلوک د هغوی لا ښې ټولنیزې ودې ته زمینه برابروي.

د دې څېړنې پایلې د بهرامیان (۱۳۷۵) د څېړنې له ځینو پایلو سره همغږې لري؛ خو له ځینو نورو سره یې نلري. هغه ښـودلې وه چې د منطقي ازادۍ لرونکو کورنیو تنکي ځوانان په ځان غښـتلی باور لري، چې دا پایله یې زموږ څېړنه هم تاییدوي؛ خو د هغوی نورې پایلې ښــيي، چې د همدغو (ډموکراټ) کورنیو تنکیو ځوانانو کې د مخدره توکو استعمال او په ښوونځي کې غیرحاضري هم لیدل کېږي، چې دغه پایله یې د دې څېړنې له موندنو سره همغږي نلري.

احدي او محســني (۱۳۷۱) ښــودلې، چې د ډموکراټ کورنیو هلکان او نجونې په ځان ډېر باور لري. دغه پایله زموږ د څېړنې پایله هم مني؛ ځکه دې څېړنې وښـوده چې د ډموکراټ سلوک لرونکو میندو ـ پلرونو تنکي ځوانان مناسبه ټولنیزه وده لري او د مناسبې ټولنیزې ودې کول تر یوه بریده په ځان باور ته اړتیا لري. د دې څېړنې موندنې د احدي او محسني د څېړنې له موندنو سره همغږې دي.

**پایلې**

ټولنیز کېـدل هغـه بهیر تـه ویـل کېږي، چې پـه ترڅ کې یې یو بې تجربې وګړی داســې مهـارتونـه، ارزښــتونه، انګېزې او رفتاري نمونې په لاس راوړي، چې په واســطه یې همدا شــخص د خپلې ټولنې ګټورې کړنې زده کوي. په ټولنیز کېدو کې اصـلي موضـوع دا ده چې وګړی زده کړل شـوې کړنې د زړه له کومې ومني او د ځان په تنظیم کې ورڅخه ګټنه وکړي.

د تنکیو ځوانانو ټولنیزه وده د نورو عواملو تر څنګ د میندو– پلرونو له ســلوک څخه هم اغېزمنه ده؛ ځکـه پـه دې پړاو کې بـایـد تنکی ځوان لـه خپلو میندو– پلرونو او د ټولنې لـه وګړو سره نوې اړیکې رامنځته کړي. څېړنه ښــيي چې په دغه کار کې د تنکیو ځوانانو تر څنګ میندې– پلرونه هم مهم رول لوبولای شي. په دې څېړنه کې د میندو– پلرونو څلور ډوله ســخت دریځه، ازاد خیال، مطلق ازاد او

تړلی سلوك وڅېړل شو او دا په ډاګه شوه، چې د تنکیو ځوانانو د تولنیزې ودې لپاره تر ټولو مناسب سلوك ازادخیال سلوك دی. هغه میندې- پلرونه چې دغه ډول سلوك کوي، تنکي ځوانان یې له خپل عمر او وخت سره سمه ټولنیزه وده کولای شي.

په دغه عمر کې د تنکیو ځوانانو یوه بنسټیزه اړتیا د خپلواکۍ تر لاسه کول دي، چې په حقیقت کې همدا د خپلواکۍ تر لاسه کول د تنکۍ ځوانۍ دورې ته د پای ټکی بږدي او د ځواني پړاو ته یې داخلوي. د مور و پلار ازادخیاله سلوك د تنکیو ځوانانو خپلواکۍ ته لار هواروي او د خپلواکۍ په تر لاسه کولو کې له هغوی سره مرسته کوي.

**وړاندیزونه**

د دې څېړنې له تر سره کولو وروسته لاندې وړاندیزونه مطرح کوو:

۱. د تنکیو ځوانانو ټولنیزه وده نه یوازې د میندو- پلرونو له سلوك څخه اغېزمنه ده؛ بلکې نور ډېر عوامل هم وربانديې اغېزې لري، چې باید په هکله یې علمي څېړنې تر سره شي.

۲. ټولنیزه وده د ژوند په ټولو دورو کې شتون لري؛ نو ښه دا ده په هره دوره کې چې کوم عوامل د ودې په دې اړخ باندې اغېزې لري وپېژندل شي.

۳. دا چې د ژوند په هره دوره کې ممکن د ودې یو اړخ تر نورو اړخونو په یوه ځانګړې برخه کې ښه وده وکړي او دا چې په هره دوره کې د انسانانو اړتیاوې هم سره توپیر لري؛ نو د وګړي اړتیاوو ته په کتو سره دې د هغوی د ښې ودې لپاره د میندو ـ پلرونو له لوري زمینه برابره شي.

**منابع**

- احدی، حسن او محسنی، نیک‌چهره. (۱۳۷۱). مفاهیم بنیادی روان‌شناسی نوجوانی و جوانی. تهران: انتشارات بنیاد تهران.
- ایزدی، لیلا او تنگستانی، یلدا. (۱۳۹۰). روان‌شناسی رشد. تهران: انتشارات نشرساوالان.
- بهرامیان، رضا. (۱۳۷۶). «بررسی رابطه‌ی اشتغال مادران با سازگاری اجتماعی و عملگرد تحصیلی فرزندان آن‌ها در مقطع ابتدایی شهرستان سنندج». پایان‌نامه کارشناسی ارشد دانشگاه علامه طباطبایی تهران.
- بې‌ریا، ناصر او ملگری. (۱۳۷۵). روان‌شناسی رشد ۲، بانگرش به منابع اسلامی. تهران: سازمان مطالعه و تدوین کتب علوم انسانس دانشگاه‌ها.
- حسین نژاد، محمد او عبدالله زاده، حکمت الله. (۱۳۹۳). «بررسی نقش سبک فرزند پروری والدین در اجتماعی شدن دانشآموزان مدارس راهنمایی». فصل‌نامه تعلیم و تربیت، شماره، ۱۲۲، صص ۱۲۰.
- حقیار، عبدالمنان. (۱۳۹۴). روان‌شناسي تربيتي. ژباړه: درمل، حسن خان. گرډېز: عملي خپرندویه ټولنه.
- حیدر ویس، نرگس. (۱۳۷۸). «بررسی عوامل اجتماعی مؤثر بر میزان مشارکت دانش آموزان در فعایت‌های فوق برنامه مدارس راهنمایی منطقه ۹ آموش و پرورش شهر تهران». پایان‌نامه کارشناسی ارشد دانشگاه علامه طباطبایی.
- ساعتچی، محمود. (۱۳۸۵). روان‌شناسی کاربردی برای مدیران در خانه، مدرسه، سازمان و جامعه. چاپ دوم. تهران: نشر ویرایش.
- شریعت، فهیمه. (۱۳۷۶). مقایسه رشد اجتماعی و پیشرفت تحصیلی کودکان خانواده‌های از هم گسیخته با کودکان خانواده‌های منسجم. پایان‌نامه کارشناسی ارشد دانشگاه شیراز.
- عابدین، بارز. (۱۳۸۴). جامعه‌شناسي تربيتي. پېښور: خاور خپرندویه مؤسسه.
- عريضي، فروغ. (۱۳۷۱). خانواده و بهداشت روانی. تهران: انتشارات آوای نور.
- کلیوال، اسدالله. (۱۳۹۷). د نويو ځوانانو د شخصيت په وده کې د کورنۍ رول. ناچاپ.
- کیانپور قهفرخی، فاطمه؛ حقیقی، جمال؛ شکرکن، حسین؛ نجاریان، بهمن. (۱۳۸۱). «رابطه هفت مرحله اول نظریه رشد روانی- اجتماعی اریکسون با مرحله هشتم آن ــــ کمال در برابر نومیدی در سال‌مندان استان خوزستان». دوره سوم، جلد ۱ و ۲.
- میرزاد، میراکرم او حبیبی، محمد ناصر. (۱۳۹۳). روان‌شناسی نوجوانان. کابل: انتشارات خراسان.